# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|

انجنیر سید عبدالقادر
۱۰ ـ ۷ ـ ۲۰۰۹
دوهمه برخه !

## آیا امریکایي او افغاني واکمنان دافغان ولس

## په وړاندي رښتیا وایي ؟

ستاهلمند يي سره لمبه کړ
ته لا وېښ يي که بیده
کلي کور يي کنډوالـه کړ
ته لا وېښ يي که بیده

په دا سي حال کي چه امریکا ولس مشر اوباما څو هفتي مخکي دقاهري دالا ظهر په پوهنتون کښي د یوي مفصلي وینا په یوه برخه کي يي داسي وويل :

امریکا ابرو مندانه از آزادي ملت ها ، واصولي قانون دفاع خواهد نمود ۰ وما با جوامع مسلمان که نیز مورد این تهدید قرارګرفته اند ، یاری و همکاری خواهیم نمود ۰

ولي دوینا په یوه بله برخه کي ددموکراسي په هکله يي بیا داسي ویلي دي :

هیچ سیستم دولتی نباید بالای ملتی از سوی ملتی دیګر تحمیل شود ۰

دامریکا يي واکمنانودپورتنیو څرګندونو څخه په ښکاره ډول معلومیږي چه دکاغذپر مخ یو څه او په عمل کښي نور څه تر سره کوي ۰ که دامریکا مشر تابه خپلو پورتنیو څرګندونو ته په ریښتینه توګه معتقد وي ، نو څنګه بیا ځان ته دا حق ورکوي او وایي : چه دافغانستان راتلونکي تولټاکني باید په آزاده او دموکراتیکه فضأ کي تر سره سي ۰آیا دافغانستان دغه اوسني داوو کلونو سیاسي حاکمیت پر افغان یرغمل سوي ولس باندي دامریکا له خواه څخه نه دي تحمیل سوي ؟ که دا واقعیت ونه لرِ ي نو کوم سیاسي حاکمیت تـه تحمیل سوي حاکمیت ویل کیږي ؟ او هم یو مملکت چه دپردو له خواه تر یرغل لاندي نیول سوي وي نو دکوم نړیوال منشور پر اساس کیدلایسي چه په هغه مملکت کښي دي یرغمل سوي ولس دټولټاکنو له لاري خپله ریښتینه اراده څرګنده کړي ۰ ځکه نوویلایسو چه امریکایي او افغاني واکمنان وافغان ولس ته رشتیا نه وایي

اوس نو ددوي دڅرګندونو څخه داسي نتیجه تر لاسه کولایسو ، چه امریکا دافغانستان داوسني کړکیچ په هکله وخپلو پخوانیو ستراتیژیکي اهدافو ته دنیژدي کیدو یا رسیدو له پاره یواځي وسیاست ته تغییر ورکړي دي ۰ او نور هر څه په افغانستان او منطقه کښي دخپلو پخوانیو ستراتیژیو سره سم مخ ته بیایي ۰چه ښه مثال يي دادي داوباما دتغییر دسیاست په لومړنیو میاشتو کښي دافغانستان داوسني لانجي دسیاسي حل پرځاي دهلمندیه ولایت یا په دې سر خلاصي زندان کښي داسي په عصري سلاحو مجهز جنګي عملیات د نهو

ورځو راهیسي دامریکا تر رهبري لاندي دطالبانو په مقابل کي مخ ته بیایي ، چه روسي خبر ي اژانس په لومړي ورځ دامریکا دا نظامي عملیات دویتنام تر جنګ وروسته لومړني لوي جنګي عملیات و بلل ۰ دا ځکه چه امریکا دا جنګي عملیات دخپلو ۴۰۰۰ ـــ سمندري مجهزو پو ځونو ،ډېرو جنګي جیټ او نورو الوتکو ، ټانکونو اوتوپونو سره یو ځاي دناټو دوو هیوادو او دافغانستان دمسلحو قواوو د ډیر شمیر سر تیرو په ګډون مخ ته بیایي ۰ چه دلومړیو درو ورځو دجنګ په درشل کښي دځینو جمعي رسنیو په حواله پینځه زره کورني ومهاجرت ته اړي سولي ۰ ولي ددي شدید جنګ دمیدانه څخه په دې څو ورځو کښي هیڅ دقیق معلومات دژور نالستانو له خواه څخه نه دي نشر سوي ۰ داسي معلومیږي چه ډیر حقایق دیرغلګرو او دملکي خلګو دتلفاتو او دکلو او کورونو دخرابیو په هکله دافغان ولس او جهانیانو څخه پټ ساتل کیږي ۰ په داسي حال کي چه ددوی په قول دا جنګي عملیات دولسوالیو د آزادي او بیا په هغو کي دآزادو او شفافوټولټاکنوله پاره تر سره کیږي ۰ او غواړي ددې مصنوعي ټولټاکنو له لاري په افغانستان کښی خپل لاس پوڅي رژیم ته ترنوومختلیفو نقابونو لاندي دخپل نظامي او اقتصادي زور په زریعه دبقا شرایط نورهم مساعد کړي ۰ که دوي په دي فکر کښي وي چه دا ستر جنګي عملیات ، مصنوعي ټولټاکني او دامریکا دنوي سیاست شعارونه به په افغانستان کښي دامن او ثبات سبب سي ۰ دابه دامریکا دنوي اداري له پاره ډیره لویه سیاسي تیر وتنه وي ۰ولي کیدلایسي چه ددغسي سیاستونو په کار اچولو سره به یواځي ددوي دماتي وخت دانساني تلفاتو اوډیرو اقتصادي مصرفونو سره یو ځاي یو څه ور اوږد کړي ، ولي نور څه به په لاس رانه وړي ۰ ځکه نو ښه به داوا ي ، چه دامریکا مشر اوباما ددغه اوسني خوشبیني د چانس څخه په استفاده ددغسي مصنوعي ټولټا کنو پر ځاي دافغانستان داوسني کړکیچ دسیاسي حل له پاره ددولت دمسلح مقاومت سره ، دبي ځایه شرطونو څخه تیر سوي اویو نړیوال کنفرانس یي د مقاومت د استازو، افغاني محلي شخصیتونو، ځیني مستقل سیاسي کار پوهانو او ددموکراتیکو ګوندونود نماینده ګانو په شمول یي دملګرو ملتونو تر مشري لاندي را بللي واي ۰ چه دا به په واقعیت کښي نه یواځي دافغانستان داوسني کړکیچ ته دپاي ټکي ایښوول سوي واي ، بلکه دامریکا په مقابل کي به داسلامی نړي او په ځانګړه توګه دافغان زوریدلي ولس تنفر فیصدي به هم لږ سوي واي ۰ اوپه راتلونکي وختونو کي به امریکا او ملګرو هیوادونو ته به یي نه یواځي په افغانستان کښي بلکه په منطقه کي به هم دنوي دوستي څه نا څه شرایط برابر سوي واي ۰

اوس که په لږ دقت سره دبوش داداري بهرني جنګي سیاست او عکس العمل ته یي چه دفلسطین دمظلوم ولس دډموکراټیکوټولټاکنو په وړاندي یي ښکاره کړ ، اوبیا دلبنان دجون داومی نیټي پارلماني انتخابات چه د اوباما دتغیر دسیاست تر اعلانولو وروسته تر سر ه سول نظر واچوو ۰ ددوي دواړو مشرانو دخارجي سیاست نیژ دیوالي ډیر ښه معلومیږي ۰چه بیانو افغان ولس ښه قضاوت پکښي کولایسي ۰ هغه داچه :

دکاناډا دټورنټو سن په ورځپانه کي ـــ اریک ماکو لیس ـــ ۱۴ ــ۶ــ ۲۰۰۹ ـــ داسي لیکلي دي :

دتیري میاشتي په وروستیو کي دامریکا مرستیال ـــ جوزف بایډن ـــ لیبنان ته ورغي او اخطاري ورکړ چه که په ډموکراتیک ډول دټاکل سوي حزب الله تر مشري لاندي ائتلاف انتخابات وګټي ، نو امریکا به پر لبنان چه ۳،۹ ـــ میلیونه وګړي لري خپلي ټولي مرستي به بندي کړي ۰

هلیري کلنټن هم کټ مټ زیږ او ستوغ تهدیدونه ورکړي وه ۰

ولي دبوش دحاکمیت په دوره کښي کوم وخت چه په فلسطین کښي پارلماني انتخابات شروع سول ، دبوش داداري له خواه دنتیجو تر اعلان دمخه داانتخابات آزاد او ډموکراتیک و بلل سول ۰ ولي کوم وخت چه دفلسطین دخلګو اراده دحماس دغورځنګ دبیرغ په څنګ کي ښکاره سول ، اود حماس غورځنګ دامریکا دارادي خلاف د فتح غورځنګ ته په دې انتخاباتو کښي ماته ورکړه ۰ نو دفعتاً امریکا اوغربي نړي داانتخابات ناسالم وبلل ، او دفلسطین دزوریدلي ولس دارادي په مقابل کي ودریدل او پر دې مظلوم ولس باندي یي اقتصادي تحریمونه اعلان کړل ، چه ددې څو کالو په نتیجه کښي یي دټولو قبول سوو نړیوالو بشري حقونو خلاف یي دامظلوم ولي با غیرته ولس یي نه یواځي داقتصادي سختو ستونځو سره مخامخ کړي ، بلکه دبي سارو اسرائیلي بشري جنایتو سره هم لاس او ګریوان کړي دي ۰

چه ددې پور تنیو بهرني تهدیدونو په نتیجه کښي په لبنان کښي دامریکا په ګټه دحریري تر مشري لاندي ائتلاف دانتخاباتو له لاري سیاسي حاکمیت ترلاسه اود حزب الله څخه یي پارلماني چوکي ډیري سولي ۰ ولي په فلسطین کي لا تراوسه خپلو اهدافو ته نه دي رسیدلي ۰

دامریکا دپورتنیوکړونو څخه داسي نتیجه اخستلایسو چه په ځینو هیوادونو کښي چه په اقتصادي او ستراتیژیکي پلوه وامریکا ته داهمیت وړ وي ، که دامریکا قواوي هلته شتون هم و نه لري ، دوي دهري ممکني وسیلي څخه په استفاده کوښښ کوي چه په هغه مملکت کښي خپل یو پلوي سیاسي رژیم داقتدار خاوند کړي ۰نو په افغانستان کي بیا څنګه کیدلایسي چه دیرغلګرو دسلو زرو مجهزو عسکرو په شتون کي دي یو داسي شخصیت قدرت تر لاسه کړي چه هغه دخلګو دارادي ښکارندوي وي ۰ ځکه نو دغه دټولټاکنو لوبه د امریکا، غربي نړي او دیو شمیر پلورل سوو افغانانو په شمول دافغان ولس دتیروتلو

لپاره ددموکراسي تر پاکو شعارونو لاندي ، دسلګونو میلیونو ډالرو په مصرف باندي مخ ته بیول کیږي ۰ چه غواړي ددي لاري ځخه خپل نوي ګوډاګي رژیم دنورو پینځو کلونو له پاره دبرچي په زور پر افغان ولس باندي وتپي ۰ ولي په اوس مهال کښي داسي معلومیږي ، چه ددي نوي رژیم په سر کي به بیاهم کرزي ځاي پر ځاي کیږي ۰داځکه چه دامریکا نوي اداري ته هم دکرزي په څیر داسي تجربه لرونکي بل څوک نه معلومیږي ، هغه دا چه کرزي نه یواځي دامریکا دګټو په نظر کي نیولو سره دمنطقي دهیوادونو سره په مناسباتو پوره پو سوي دي ، بلکه دملت دارادي خلاف يي دیرغلګرو دهیلو سره سم دملی شتمنیود لویي برخي په سخاوتمندانه تقسیم کښي دیرغلګرو کمپنیو،لوي جنګ سالارانو او ځینو افغاني تیکنوکراتانو تر منځ هم لوي رول لوبولي دي ۰ چه داکار هم دده وزن دامریکااو غربي نړي په وړاندي لوړ کړي ، چه دهغو دډیري خوښي سبب هم ګرځیدلي دي ۰ ولي دبله طرفه دامریکا مالي اواقتصادي بحران او په افغانستان کښي دامریکا او ناټو په مقابل کښي دجهان اوپه ځانګړي توګه دمنطقي دهیوادونو غیر مستقیم مقاومت دکرزي چانس نور هم ډیر کړ ۰داځکه چه په اوس مهال کښي دامریکا دنوي اداري سره داسي بیره هم معلومیږي چه که دکرزي پر ځاي بل شخص تعین کړي ، شاید امنیتي حالات نور هم دامریکا اوناټو دمهار ځخه ووزي ۰او دبله طرفه په دې لنډ وخت کي بل داسي شخص هم نه سي پیداکولاي چه دیرغلګرو دبشري او اقتصادي جنایاتو دپټولو لپاره دخلګو په وړاندي په یوه لحظه کښي ژړااو هم خندا ولري ۰ ځکه نوکرزي ددي ټولو امکاناتو په درلودلو سره په دې مصنوعي ټولټاکنو کښي دولس ورایو ته کوم ضرورت نه لري ، که یي دخلګو ورایو ته يي ضرورت درلودلاي ، نو په هغه صورت کي بیا کرزي دغسي لوي جنګ سالاران چه دولس او دنړیوالو بشري حقونو دسازمانونو له خواه په بشري او اقتصادي جنایاتو متهم دي دخپلو معاونینو په حیث يي نه ټاکل ، اونه به يي دملت دارادي خلاف دهغو سره معاملي کولاي ۰ ځکه دي په دې پوهیږي چه دخلګو ریښتینه رایه په دې ټولټاکنو کښي داهمیت وړ نه ده اوپه اوس مهال کښي فقط هر څه دامریکا دارادي سره سم مخ ته ځي ۰ ولي متاسفانه چه ځیني سیاسي ګوندونه او ځیني روشنفکران بیاهم دا مصنوعي ټولټاکنو ته د مشروعیت په هنداره کي ګوري ، او ددې امریکایي لوبي د دغه مصنوعي بهیرډول ته دنورو جنګ سالارانو او غربي تیکنوکراتانو په څیر دوي هم ترخپله وسه ولي په تشو لاسو نخاکوي ۰ چه دا خپله دامریکا او غربي نړي تر رهبري او حمایي لاندي دغه نا مشروع ټولټاکنو ته ددوي دنظره يو مشروعیت ورکول هم دي ۰ ولي ددوي داوسني عمل چه په هره سطح کي قرار ولري دتاریخ دمحکومیت ځخه لیري نه سي پاته کیدلاي ۰ داځکه چه دوطن په ګوټ ، ګوټ کښي دیر غلګر ځواکونو او مقاومت تر منځ داسي شدیدي جګړي ددواړو اړخونو دتلفاتو سره یو ځاي رواني دي ، چه دناټو واکمنان يي هم هک پک کړي دي ۰ دپورتنیو واقعیتونو په نتیجه کښي داسي سوالونه رامنځ ته کیږي :

— ایاتاسو دغه په لس هاوو د جمهوري ریاست کاندیدان و دغسي جنګي جنایاتوته چه دیرغلګرځواک له خواه ځخه دهلمند او یانورو ولایاتو کي دټولټاکنو دشرایطو دآماده کولو له پاره تر سره کیږي ، کوم نوم ورته ایږ دي ؟

— ایا ستاسو وجدان ددغونو پاکو بي ګناه انسانوشهادت نه لرزوي ؟

— ایا تاسو دکومو نړیوالو قبول سوو بشري حقونو پر اساس د یرغلګر ځواک ودې سیاسي لوبي ته ور ډانګلي دي ؟

— ایا تاسو ددې یرغمل سوي ولس دقهر او تاریخ ځخه کومه بیره نه لري ؟

— ایا تاسو پوهیږي چه تر کومه به امریکا او ناټو ستاسو ساتنه کوي ؟

— ولي په ریښتینه توګه وخپل ولس ته لاس نه ورکوي ؟

تمت بالخیر ۰